پوهندوی دوکتور سیدحسام «مل».

----------------------------------------

# کبوتر با کبوتر زاغ بازاغ

دامتل چي دپیریو پیړیوراهیسي دخلکو په مینځ کي دیوی خولی حخه بل خولی ته گرځی اوراگرځی ډیر پرمفهوم اویومنل شوی متل دي .کوم چی د نسلونو نسلونو دتجربو اودکړنو پایلی دي اودهغه په کار وړلو سره ډیر پټ اوښکاره مفاهیم اومعناوی دسړی په ذهن کی را ټوکوی ، او یا داچي په ایما اواشاری سره دډیر تر پردی لاندی معاملی سګنالونه مقابل لوری ته ورکوی او داپه دی معنی :هغه څه چی تاسی په پټه سره معامله کوی مونږ تری خبر یو ځکه چی د ستا سوکړنی او فعا لیتونه سره شریکی دی دبیلګی په توګه :که تاسی دافغانستان داولسمشری د ټا کنی دوهم پړاوته ځیرشی او په انتخا با تی مبارزاتو کی دککړوسیاسی لوبغاړی لوبی اومعا ملی ته وګوریی نو تا سو ته به څرګند شی چی دلته هیڅوک دافغانستان اودهغه د پراخو اولسونو او دپرګنو په غم او درد کی سر نه خوږوی بلکه هر څوک غواړی چي خپل مادی او معنوی ګټی د ملت له ګټي څخه پورته وګڼی ، نودهمدی اصل په نظر کی نیولو سره بیا همغه دافغانستا ن دورانی اود بربادی نه هیریدونکی کرغیړنی چهری سره یوځای شوی کوم چی دهغو له مینځ څخه یو هم عبد ا لرب رسول سیا ف ټوپکسالار دوهابی عرب چوپړ اودافغانستان دبی ګناهو خلکو قاتل اود بشر دحقونو سرغړونکی اود خلکو دجایدادونو اودځمکی غاصب هم دخپل خیل او دافغانستان دورانی اود افشار دبی ګناهو خلکو دوژلو قوماندان کوم چی دغره دپاسه دکابل ښار یی په راکټو ویشتل یعنی د عبد الله عبد الله سره یوځای شو او ځبل داړه ما ر ډلو ټپلو ته وویل چی خپل وټ عبدالله ته ورکړی تر څو چي عبدالله عبدالله دافغانستان جمهور ریس شی او بیا د سیا ف اودهغو ګردو کارغا نو شتمنی وسا تی او ورته په دولت کی لوړمقا مونه ورکړی ، دبلی خوا څخه کوم چی دغه مخکینی ډلی ټپلی سره یو ځای کیږی ، داسی راڅرګندیږی چی دوی لکه چی متل دی خا ین خا یف وی ، دوی ډاریږی چی که اشرف غنی انتخابات وګټی نه چی یوه ورځ د هغه وجدان ټکان وخوری او هدایت ورکړی چی ددغو ټولو ډلو ټپلو جایدا دونه ، شتمنی مصادره اود بیت المال په خزانه کی تحویل شی او پخبله دوی د خلکو محکمی ته معرفی شی چی ددی فرضیی یوه بیلګه همغه د ګل اغا شیر زوی دتاریاکو دقاچاق سرمشر اود مافیا دډلی قوماندان کله چی خپل همکاری دداکتر عبد الله سره اعلان کړ ، نو هغه پخپل وینا کی وویل چی زه نه غواړم چی د ټول ټاکنو په دوهم پړاو کی قوم ګرای وشی نو له همدی کبله له دی نه چی د داکتر اشرف غنی سره لاړ شم ومی غوښتل چی د عبد الله عبد الله سره خپل همکار اعلان کړم ، دا داسی مطلب په ګوته کوی چی داکتر اشرف غنی نه چی یوه ورځ په هغه صورت کی چی دافغانستان جمهور ریس اوسی او وغواړی چی بی سوادو خلکو ته ټقام ورنکړی او په دی بنیاد سره به دهغه موقف ته تاوان ورسوی ، دلته کله چی دګټی موضوع ته وګورو نو دغلو سره دا اندیشه نه وی چی زه څوک یم که نه دا همغه تاجک ، پښتون او ....... داړه ماران او لاس پوڅی دی چی دنواز شریف په کور کی دافغانستان دبربادی او د ورانی رهنمود تر لاسه کړل او کابل یی دخاوری سره خاوری کړل او دافغانستان ټول دار اوندار یی غصب او دامریکی په مټ سره دیارلس کاله حکومت وچلول او ځانونه یی تر ستونی ماړه کړل او لا پسی هڅه کوی چی دپردی تر شا دخپل موقف دسا تلو دپا ره ناوړی معاملی وکړی٬ دبلی خوا څخه داسی معلومیږی چی دبارک اوباما اداره له یوکال څخه را وروسته د طالبانو سره په مذاکر بخت دی کوم چی دهمدی مذاکراتو په لړ کی

دطالبانو پنځه مخکینی لوړ پوړی چارواکی د برګدال امریکایی سر تیری سره مبادله شو اوداسی ښکاری چی طالبان ممکن سولی ته غاړه کیږدی اودهغو یوشرط دا اوسی چی دغه د مجاهید ینو دتنظیمونو مشران اودهغو سره تړلی اوسنی دولتمردان له اوسنی مقا مونه ځخه لیری او دخلکو محکمی ته وسپارل شیُ نو که چیری افغانی طالبان دغه وړاندیز امریکی ته وکړی نو امریکا دخپل ګټو دلاسته راوړلو دپاره خاماخا د طالبانو دغه غوښتنی منی نو له همدی کبله دعبد الله عبدالله تیم دهمدی ډار دلرلو په نسبت شبنامی خپروی اوپه هغه کی یادوی چی اشرف غنی طالب دی ، اشرف غنی نا مسلمان دی ، اشرف غنی کوچی ( چی دافغانستان دهزاره ګا نو شریف قوم داشرف غنی پر ضد وپاروی ) دی اوداسی نور یا داچی داشرف غنی لمړی مرستیال دوستم دمجاهیدینو او د طالبا نو قاتل او یو وخت دافغانستان د کین اړخ دولت جنرال وه . دا داسی وانمود کیږی چی یو غل بل ته ووایی چی ته غل یی یا یو قاتل بل قاتل ته ووای چی ته قاتل یی ، حال داچی دافغانستان خلک وای

« نه دی کل پاتی شي نه دی کدو خاک برسر هردو» .

پـه درنـاوی